مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۱۱

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (اووه اویایمه برخه)

### محمد نسیم نګهت (سعیدي)

په ۱۹۳۳ز کال کې د بدخشان ولایت په فیض آباد کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۲ز کال کې له دارالمعلمینو څخه فارغ سو؛ په ۱۹۵۶ز کال کې د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ سو؛ له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې ئې د یوهٔ کال لپاره د لندن په پوهنتون کې په SOAS د ختیځ او افریقایي څېړنو پوهنځي- ژ [1] کې زده کړه او تدریس وکړ او په ۱۹۷۷ز کال کې ئې د شپږو میاشتو لپاره په هند کې څېړنه وکړه. په ۱۹۵۷ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د فارسي ژبي مدرس او په ۱۹۷۷ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د استادي درجې ته ئې ارتقاء وکړه. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د ادبیاتو د پوهنځي ارګان د ادب د مجلې محرر. د معاصرې دري د ګرامر په ګډون د ګڼ شمېر آثارو مؤلف او ژباړونکی. په ۱۹۷۰ز کال کې د کابل پوهنتون د هغو استادیو د کمیسیون غړی چې په ۱۹۷۰ز کال کې په کابل پوهنتون باندې د پولیسو برید ئې غندلی وو. د ۱۹۸۱ز کال د مارچ په میاشت کې ئې افغانستان پرېښود او د ۱۵ میاشتو لپاره ئې په پاکستان کې ژوند وکړ او د پاکستان راډیو ته ئې د افغانستان د مسائلو په اړه تبصرې لیکلې. د رحمن بابا د ادبي جایزې او د سید جمال الدین افغانی د جایزې ترلاسه کوونکی. له ۱۹۸۲ز کال راهیسې د کالیفورنیا په لاس انجلس کې ژوند کوي. مېرمن ئې د غلام محمد فرهاد ناسکه خور ده. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

### نجف علي نجاتي

د غلام محمد زوی د مزار شریف د سرِ پل په آق تاش کې په ۱۹۰۷ز کال کې زېږېدلی دئ. لومړنۍ زده کړې ئې په کور کې کړې دي. په ۱۹۲۴ز کال کې هرات ته په اسلامي علومو کې د لوړو زده کړو لپاره لاړ. د حکومت په بېلابېلو ادارو کې کاتب. شاعر.

[1] -The School of Oriental and African Studies, SOAS


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## محمد نادر شاه نیک یار

د زکیم خان زوی په خوست کې زېږېدلی دئ. د کابل له دارالمعلمینو او د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې مدرس او وروسته د کابل پوهنتون د رئیس اسیستانت. د غوایي له پاځون وروسته د انقلابي شوری د سکرتریت مشر.

## ډاکټر عبدالرحیم نوین

د عبدالحکیم زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. (پلار ئې عبدالحکیم یو پېښوری پښتون او مور ئې تورکۍ وه). په ۱۹۴۷ز کال کې د نجات له لیسې څخه فارغ سوی دئ؛ او په ۱۹۵۳ز کال کې د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي فارغ سوی دئ. د ابن سینا په روغتون کې د طب (ولادې)[2] ډاکټر. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۵۹ز کال پورې ئې پورې په میونیخ کې طبابت وکړ. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د (ترجمان) په نوم د اونیزې طنزیې څښتن او ناشر. د کابل په پوهنتون کې استاد. په ۱۹۶۷ز کال کې د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي رئیس. په ۱۹۷۰ز کال کې د کابل پوهنتون د اکاډیمیکو چارو مرستیال رئیس. ولسمشر داؤود ته نېږدې وو. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور وزیر. د ۱۹۷۸ز کال د مې له میاشتې د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ تر میاشتې پورې د کابل په پلچرخي کې زنداني. جرمني، بلغاریا، اندونیزیا، هندوستان او تورکیې ته ئې سفرونه کړي دي. د زمان تره کي له لور سره ئې وادۀ کړی دئ. ژبې : دري، تورکي او جرمني. په لیکنو کې ئې د چکک او ترجمان مستعار نوم کارولی دئ. جرمني ته ئې پناه وړې وه او د ۱۹۸۴ز کال د جون د میاشتې په نهمې په جرمني کې وفات سو.

## حاجي محمد سلیم نژاد/نزاد

(د ملا عبدالکریم د زوی) حاجي محمد یونس زوی په ۱۸۹۱ز کال کې په مزار شریف کې زېږېدلی دئ. په لومړیو کې سوداګر وو او وروسته د مزارشریف د لرغونتون /موزیم مشر سو. شاعر. ( د ژباړونکي یادونه : پورته د محمد سلیم نزار په نوم یاد سو. دا هماغه یو سړی دی. – ژ)

**نیاز** : وګورئ : نیاز

## محمد امین نیما

د خرم دل زوی په ۱۹۴۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۲ز کال کې د حبیبیې له لیسې او په ۱۹۶۵ز کال کې د کابل پوهنتون د اقتصاد له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د کابل پوهنتون اداري او اکاډیمیک اسیستانت. په ۱۹۷۰ز کال کې جرمني ته لاړ او په ۱۹۷۷ز کال کې د (بوخم) [3] له پوهنتون څخه ئې په اقتصاد کې ماستري واخیستله. په ۱۹۸۳ز کال کې د بوخم په پوهنتون کې اکاډیمیک اسیستانت. په ۱۹۸۴ز کال کې په اسلامي اقتصاد کې (څېړندوی) [4]. د اقتصاد په ډګر کې د ګڼ شمېر آثارو لیکوال.

---

[2] -Obstetrics
[3] -Bochum University
[4] -Research Associate


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**نعمت الله**

د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمېټې علی البدل غړی. ډ غوایي له پاڅون وروسته) د کابل ولایت د گوندي کمېټې د مرکزي زون مشر.

## ډاکټر غلام محمد نیاز

د نیاز محمد زوی په ۱۹۳۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۱ز کال کې د استقلال له لیسې څخه فارغ سو. په ۱۹۶۰ز کال کې ئې د (سویټزرلند د نوشتل له پوهنتون)[5] څخه په اقتصاد کې ډیپلوم تر لاسه کړ. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي اسیستانت. په ۱۹۶۸ز کال کې ئې د جرمني د (کولن)[6] له پوهنتون څخه دکتورا تر لاسه کړه. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي پوهاند/ پروفیسر. د ۱۹۷۸ز کال د آگست له میاشتې د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ تر میاشتې پورې زنداني سو. په ۱۹۷۸ز کال کې د (وحدتِ ملي)له بنسټ ایښودونکو څخه وو. له ۱۹۸۱ز کال راهیسې په جرمني کې ژوند کوي. له ۱۹۸۱ز کال راپه دېخوا د OSULA غړی.

## محمد نیاز

د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمېټې او د انقلابي شورۍ غړی. د مرکزي کمېټې CC د اقتصادي څانگې مشر.

## غلام محمد نیازي

په کټواز کې زېږېدلی دئ. د ابو حنیفي په مدرسې کې شامل سو او ویل کېږي چې همدلته د (اخواني) افکارو تر اغېز لاندې راغی. په ۱۹۵۰ز کال کې د الازهر له پوهنتون څخه فارغ سو. په ۱۹۶۴ز کال کې پوهاند. په ۱۹۷۲ز کال کې د کابل پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي رئیس. د عبدالرسول سیاف او برهان الدین رباني لاربنود، چې له دوی سره ئې په گډه د (جوانان مسلمان) بنسټ کښېښود. د اخواني په مشرتابهٔ کې برهان الدین رباني د غلام محمد نیازي ځای ونیوهٔ. په ۱۹۷۴ز کال کې د داؤود له پلوه ونیول سو او په ۱۹۷۸ز کال کې د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال د پنجشیر له لومړۍ بلوا وروسته اعدام سو.

## میرزا نظام الدین نظام

د میرزا کمال الدین انصاري زوی. خصوصي زده کړې لري. ماوراألنهر ته لاړ چې په بخارا کې ژوند وکړي او همدلته ئې نورې زده کړې وکړې. شاعر او خطاط. په ۱۹۲۰ز کال کې وفات سو.

## محمد حسین نهضت

د چنداول له سیمې څخه د عالم خلیفه غلام حسن زوی په کابل کې زېږېدلی دئ. تحصیلات ئې په اسلامي علومو کې ول. د استقلال په لیسې کې د پارسي ادبیاتو ښوونکی. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۰ز کال پورې نور احمد اعتمادي د ټولنیزو

---

[5] -University of Neuchatel, Switzerland

[6] -Cologne, Germany



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اړیکو د افسر په توګه مقرر کړ. د کابل پوهنتون د ښووني او روزني د پوهنځي د ادبیاتو ښوونکی. په ۱۹۷۹ز کال کې د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال د چنداول له پېښو وروروسته ووژل سو.

## نظیف الله نـهضت

په ۱۹۴۹ز کال کې په کندز کې زېږېدلی دښ. په ۱۹۶۷ز کال کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند غړی سو. په ۱۹۷۱ز کال کې د کابل د عالي دارالمعلمینو له څوارلسم ټولګي څخه فارغ سو. په ۱۹۷۴ز کال کې په بغلان کې ښوونکی. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د روښان د ښوونکو د روزني په عالي انستیتیوت کې شامل سو. په ۱۹۷۷ز کال کې د لیسانس په درجې فارغ سو. په ۱۹۷۷ز کال کې د کندز د ښوونکو د روزني د انستیتیوت/ دارالمعلمینو غړی او د همدې کال د اپریل په میاشت کې د کندز ولایت د معارف مدیر سو. د ۱۹۷۸ز کال د آګست په میاشت کې د بغلان والي؛ د ۱۹۷۸ز کال د دسمبر په میاشت کې د هرات والي. د ۱۹۷۹ز کال د مارچ په میاشت کې د غزني والي. د ۱۹۷۹ز کال د آګست له میاشتي تر ۱۹۸۴ز کال پورې د کیوبا سفیر. ځای ئـې ازهر ونیوۀ

## سید ابراهیم نقطه یا عالمشاهي

د غزني د سید محمد علیشاه زوی په ۱۹۰۶ز کال کې په مشهد کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئـې په فارس کې وکړې او افغانستان ته راستون سو او د حکومت په بېلابېلو ادارو کې ئـې کار وکړ. په ۱۹۵۱ز کال کې ئـې تقاعد وکړ. د مدافع وکیل په توګه په شخصي کار اخته سو. شاعر او لیکوال؛ خپل اشعار به ئـې د نقطه په لقب خپرول. په ۱۹۷۹ز کال کې د چنداول د پېښـو په ترڅ کې ووژل سو.

**نور بیا**

## ډاکټر عبدالسمع نور

د محـمـد هاشم زوی په ۱۹۳۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۸ز کال کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ